# په تېرو ۱۵ کالو کې د کندهار ۵۰.۵۷ سلنه محلي رسنۍ تړل شوي

فوکس پرمختيايي اداره

د ۱۳۹۷، غوايي د مياشتې ۱۹

# په تېرو ۱۵ کالو کې د کندهار ۵۰.۵۷ سلنه محلي رسنۍ تړل شوي


د څېړنې ډيزاين او مديريت

فوکس تحقيقاتي اداره

راپور چمتو کونکي

فضل الرحمن

عبدالنافع همت

ايډېټران

منصور نسيمي

فضل الرحمن

عبدالنافع همت

ساحوي کار

د د فوکس اداري څېړونکي

د راپور ډيزان

نقيب الله کريم

د موضوعاتو فهرست

مقدمه: ........ ۴
لنډیز........ ۴
د راپور تفصیل........ ۵
۱:د کندهار محلي رسنۍ او پر خلکو یې اغېز: ........ ۵
۲:د کندهار د سیمه ایيزو رسنیو کیفیت:........ ۶
الف:ټلویزونونه: ........ ۶
ب:راډیوګانې........ ۶
ج: چاپي رسنۍ:........ ۸
د: وېبپاڼې:........ ۸
ه: اجتماعي رسنۍ:........ ۸
۳: د کندهار د محلي رسنیو او خبریالانو پر وړاندې ستونزې: ........ ۹
الف: امنیتي ستونزې:........ ۹
ب: سانسور او معلوماتو ته نه لاسرسی:........ ۹
ج: د مسلکي خبریالانو نشتوالی: ........ ۱۰
د:د چاپي رسنیو لپاره د لیکوالانو او اډېټرانو کمښت........ ۱۰
ه:د کندهار د محلي ادارو له خوا د رسنیو تر منځ تبعیضي چلند:........ ۱۰
و:د ښځینه خبریالانو کمښت........ ۱۱
۴: د رسنیو مالي سرچینې: ........ ۱۱
۵: د کندهار په رسنیو کې د ښځو حضور: ........ ۱۱
الف:فرهنګي محدودیتونه:........ ۱۱
ب: جنسیتي ځورونه:........ ۱۱
ج: لږ مالي امتیازات او نامعلوم راتلونکی:........ ۱۲
د: جنسیتي تبعیض او پر رسنیو باندې د نارینه وو واکمني:........ ۱۲
ه: په تېرو (۱۵) کالو کې د کندهار د ځایي رسنیو لنډه ارزونه:........ ۱۳

# په تېرو پنځلسو کالو کې د کندهار سیمه ییزو رسنیو ته یوه کتنه

## مقدمه:

دې څېړنې (۶) اساسي هدفونه درلودل چې په دې ډول دي:

۱: په تېرو پنځلسو کالو کې د کندهار د سیمه ییزو رسنیو په اړه لنډ معلومات
۲: د کندهار پر عامو خلکو د رسنیو اغېز
۳: د فعاله رسنیو کیفیت
۴: د رسنیو او خبریالانو پر وړاندې خنډونه
۵: د رسنیو مالي سرچینې
۶: په رسنیو کې د ښځو حضور.

د دې څېړنې لپاره د مرکې میتود غوره شوی او له (۱۶۷) نفرو سره په صوتي بڼه مرکې شوي چې (۱۳۲) نارینه او (۳۵) یې ښځینه دي. په دې مرکو کې (۱۳۱) مخامخ ترسره شوي او (۳۶) یې د ټیلیفون له لارې ثبت شوي دي. دا مرکې د کندهار له بېلابېلو اقشارو سره شوي دي. له هر چا سره چې مرکه شوې، نو په پیل کې یې خپل نوم، د پلار نوم، عمر، د اوسېدو ځای او وظیفه معرفي کړې ده. دې څېړنې (۶) میاشتې وخت نیولی چې د (۱۳۹۶) شمسي کال د زمري د میاشتې پر (۱۱) نېټه پیل او د همدې کال د سلواغې د میاشتې پر (۱۰) نېټه پای ته رسېدلې دی.

## د راپور لنډیز:

په تېرو (۱۵) کالو کې په کندهار کې (۸۷) رسنیو خپرونې پیل کړي چې (۵۰) رسنۍ د بېلابېلو لاملونو له مخې بندې شوي او (۳۷) یې اوس هم خپرونې لري. په کندهار کې دا مهال (۱۴) سیمه ییزې راډیوګانې، (۲) ټیلویزیونونه، (۱۳) چاپي رسنۍ او (۸) ویبپاڼې خپرونې لري. له دې رسنیو سره (۱۵۲) خبریالان کار کوي چې (۳۵) یې ښځینه خبریالانې دي. د پوښتل شویو خلکو له خبرو څخه څرګندېږي چې په تېرو (۱۵) کالو کې د کندهار سیمه ییزو رسنیو د کندهار پر ټولو اقشارو مثبت اغېز کړی او دوی ورڅخه خوښ دي، آن دا چې ځینو یې داسې مثالونه هم ورکړي چې د وی په ژوند کې یې عملي بدلون راوستلی دی، خو یوازې کارګران وایي چې د کندهار په رسنیو کې د دوی لپاره یوه ځانګړې خپرونې هم نشته. د دې تر څنګ یو شمېر کلیوال خلک وړاندیز کوي چې په کلیو کې اکثره خلک نالوستي او په ټولو ناامنه ولسوالیو کې ښوونځي تړل شوي، نو باید د تفریحي خپرونو پر ځای تعلیمي خپرونو ته ډېره پاملرنه وشي.
د پوښتل شویو عامو خلکو او کارپوهانو له نظریاتو څخه داسې معلومېږي چې د کندهار رسنۍ سیستم محوري نه، بلکې شخص او یا پروګرام محوري دي. په تخنیکي برخه کې یوه ستونزه دا ده چې راډیوګانې د کندهار په ټولو ولسوالیو کې نه اورېدل کېږي. په پوښتل شویو خلکو کې په سلو کې (۹۹) یې ویلي چې په ژوندۍ بڼه خپرونې بې ګټې او د دوی د اخلاقو، فرهنګ او عرف خلاف دي.
د کندهار د فعاله رسنیو د امتیاز خاوندانو او نشراتو د رئیسانو له نظریاتو څخه معلومېږي چې مطلق اکثریت یې مسلکي زده کړې نه لري. په دوی کې (۶) یې ویلي چې لیکلي نشراتي پالیسي نه لري او یوازې یوې رسنۍ موږ ته خپله نشراتي پالیسي ښودلې ده. د څېړنې پر مهال یوازې یوې رسنۍ موږ ته د خپلو کارکوونکو د قرارداد بېلګه ښودلې ده، له دې څخه څرګندېږي چې ښایي ځینې رسنۍ په حقوقي او قانوني برخه کې ستونزې ولري.
د فعاله رسنیو ټولو مشرانو ویلي چې په تېرو (۱۵) کالو کې یې یو تحقیقاتي راپور هم نه دی جوړ کړی، که چا جوړ کړی هم وي، نو پر ملي یا نړیواله رسنۍ یې خرڅ کړی او د کندهار له سیمه ییزو رسنیو څخه نه دی خپور شوی. اکثره خبریالانو ویلي چې غیر مسلکي مشران یې د مسلکي لارښوونې صلاحیت نه لري، کار ته یې په درنه سترګه نه ګوري، لازم امکانات په واک کې نه ورکوي او د کندهار په سیمه ییزو رسنیو کې خپل راتلونکی روښانه نهویني، نو هغه دی چې لومړی ملي، او بیا نړیوالو رسنیو ته ځي او پر ځای یې نوي، غیر مسلکي او بې تجربې ځوانان راځي او د خپرونو کیفیت ته زیان رسېږي.
په تېرو (۱۵) کالو کې که څه هم د کندهار سیمه ییزو خبریالانو ته د بېلابېلو ملي او نړیوالو ادارو له خوا په مسلکي برخه کې تربیتي ورکشاپونه جوړ شوي، خو لکه څنګه چې لګښت شوی او هیله کېده، هغسې نتیجه یې نه ده ورکړې. د کندهار د خلکو یوه ګیله دا ده چې د کندهار د محلي رسنیو پر ځای ملي او نړیوالو موضوعاتو ته ډېره پاملرنه کېږي. د موضوعاتو تنوع او د ټولنې د اقشارو یا اورېدونکو ډلبندي هم د راډیوګانو د ټیټ کیفیت څرګندونه کوي. یوازې د اسلامي تعلیماتو، مېرمنو او ماشومانو په برخه کې ځانګړې رسنۍ شته، د نورو رسنیو د خپرونو محتوا او موضوعات تقریباً سره ورته دي.

په پوښتل شویو خلکو کې په سلو کې (۹۹) یې ویلي چې د کندهار د سیمه ییزو رسنیو ژبه ساده، روانه او د فهم وړ ده او دوی ځني راضي دي.
د کندهار د سیمه ییزو رسنیو پر وړاندې ګڼ شمېر ستونزې شته لکه ناامني، مالي ستونزې، سانسور، معلوماتو ته نه لاسرسی، د مسلکي خبریالانو لږوالی، د چاپي رسنیو لپاره د لیکوالو او ایډیټرانو کمښت، د کندهار د محلي دولتي ادارې له خوا د رسنیو او خبریالانو تر منځ تبعیضي چلند او ښځینه خبریالانو کمی. د رسنیو د امتیاز خاوندانو او نشراتو رئیسانو ټولو ویلي چې دوی خپل لګښتونه له اعلاناتو او سوداګرو له مرستو څخه پوره کوي، خو د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ د رئیس فضل باري بریالي په ګډون د کندهار ځیني خبریالان او رسنیو کارپوهان دا خبره بې اساسه ګڼي. دا مهال په کندهار کې (۱۵۲) خبریالان کار کوي چې په دوی کې یوازې (۳۱) یې ښځینه خبریالانې دي. د کندهار په سیمه ییزو رسنیو کې د ښځو د کم رنګه حضور په اړه بېلابېل دلایل یاد شوي چې فرهنګي محدودیتونه، جنسي ځورونه، جنسیتي تبعیض، لږ مادي امتیازات او نامعلومه راتلونکې یې عمده عوامل دي.

## د راپور تفصیل:

## ۱: د کندهار محلي رسنۍ او د کندهار پر خلکو یې اغېز

د کندهار نژدې ټولو پوړونو (اقشارو) ویلي چې د کندهار سیمه ییزو رسنیو د دوی پر ژوند مثبت اغېز کړی دی. د کندهار ښار د لویې ویالې د سیمې یوه کورنۍ ښځه رحمانیه وایي: ((له کوچنیوالي څخه مې له ښوونځي سره ډېره مینه درلوده، خو مور او پلار اجازه نه راکوله، اوس چې له ځینو راډیوګانو څخه تعلیمي خپرونې اورم، نو ډېر څه مې ځني زده کړي دي، داسې احساس کوم چې زه په ښوونځي کې یمه او ځان باسواده راته ښکاري)).
د ډنډ ولسوالۍ یوه شپېته کلنه بوډۍ ګل ببو وایي: ((له راډیوګانو څخه مې د دین په اړه ډېر څه زده کړي دي)). د کندهار ښار پنځه ویشت کلنه پېغله عزیزه وایي: (( پخوا به خلکو یوازې له کتاب څخه زده کړه کوله او د کتاب لپاره سواد ته اړتیا وه، خو اوس د کتاب تر څنګ له رسنیو څخه هم ډېر څه زده کېدای شي او ما هم ډېر څه ځني زده کړي دي)).
ماشومان هم له رسنیو څخه خوښي څرګندوي. څوارلس کلن مختار احمد وایي: (( د دین په اړه مې له رسنیو څخه ډېر څه زده کړي دي)). د پوهنتون محصلین هم له رسنیو څخه خوښي څرګندوي. د کندهار پوهنتون یوه محصله تمنا سحر وایي: (( کله چې له پوهنتون څخه کور ته راشمه، نو له درسونو څخه ډېره ستړې شوې یمه، بیا د راډیوګانو تفریحي خپرونې اورم، په دې ډول د خوشالۍ احساس کوم او ذهني ستړیا مې لیرې شي)).
د ښوونځیو زده کوونکي هم وایي چې له رسنیو څخه یې ډېر څه زده کړي دي. اتلس کلنه بي بي رقیه وایي: (( پخوا به خلک د معلوماتو لپاره مجبور ول چې کتابتونونو ته ولاړ شي، خو اوس رسنیو دا کار اسانه کړی دی، په موبایل کې انټرنیټ او راډیو درلودلای شو او له دې لارې هر ډول معلومات په اسانه تر لاسه کولای شو)).
مدني ټولنې هم له رسنیو څخه خوښ ښکاري. د هینداري تعلیمي او اجتماعي پرمختیایي مرکز مشر غوث الدین فروتن وایي: (( موږ په کندهار کې د ټاکنو په اړه د عامه پوهاوي یو پروګرام درلود. موږ غوښتل چې خلک د رایو په ارزښت وپوهېږي. د دې هدف لپاره مو د ګرافیکي هنر له لارې پر دېوالونو باندې ځیني پیغامونه ولیکل، زموږ دا فعالیت یوازې تر یو څو سیمو او دېوالونو پورې محدود و، خو کله چې رسنیو د دې فعالیتونو په اړه راپورونه جوړ کړل، نو زموږ پیغام یې تر ډېرو خلکو پورې ورساوه)).
د کندهار فرهنګیان او هنرمندان هم په خپل ژوند کې د رسنیو رول مثبت ګڼي. (۲۲ ) کلن سندرغاړی حکمت الله وایي: (( راډیوګانې او تلویزیونونه په خپلو ادبي پروګرامونو کې تکړه شاعران مېلمانه کوي او هغوی خپل شعرونه وایي، موږ د دې شاعرانو شعرونه غوره کوو او بیا سندرې ځني جوړوو)). ( ۲۸) کلنه شاعره مینه افغان وایي: ((د کندهار د محلي راډیوګانو ادبي خپرونې په ډېر شوق او مینه اورم، په تېره بیا هغه ادبي خپرونې مې ډېرې خوښېږي چې شاعران زنګونه ورته وهي، خپل شعرونه ورته وایي او بیا د کوربه له خوا پر هغه شعر کره کتنه کېږي. زه اوس د دې ډول خپرونو له برکته پوهېدلې یمه چې شعرونه مې کومې نیمګړتیاوې او کومې ښېګڼې لري)).
د کندهار سوداګر هم له رسنیو څخه خوښ ښکاري. د کندهار د لندي مېوې یو سوداګر قدرت الله لېوال وایي: (( موږ پخوا پاکستان ته انار او انګور د لرګیو په کرېټونو کې استول چې هم به په لاره کې ژر خرابېدل او هم ډېر لګښتورباندې راته، خو زه د کندهار له سیمه ییزو رسنیو څخه خبر شوم چې ځیني سوداګر خپل انګور او انار په ایرکنډیشن لرونکو موټرونو کې پاکستان ته استوي، دغه ډول د لرګي د کرېټونو پر ځای پلاستیکي ټوکرۍ کاروي، هغه و چې ما هم سږ کال انګور او انار په دې ډول او پیکینګ سره پاکستان ته واستول، په دې ډول ډېرې پیسې را وسپمول شوې او ډېره ګټه مو وکړه)).
د اعتماد شرکت یو کارکوونکی حاجي ظاهر جان د عدالت غوښتنې په برخه کې هم د رسنیو رول مهم بولي او وایي: (( تقریبا لس کاله وړاندې د سردار محمد په نوم د کندهار د امنیې قوماندان زموږ د شرکت یوه ځمکه قبضه کړه. هغه وخت په

کندهار کې د (سورغر) په نوم اوونیز اخبار چاپېده. سورغر دا موضوع ډېره جدي وګڼله او په دې اړه یې څو راپورونه او مرکې خپرې کړې، په نتیجه کې امنیه قوماندانی مجبوره شوه چې موږ ته خپله ځمکه راوسپاري)).
بزګران او باغوانان هم وایي چې له رسنیو څخه یې ګټور معلومات تر لاسه کړي دي. د ژیړی ولسوالی (۳۵) کلن محمد کریم نومي باغوان وایي: (( زموږ انګور به ښخوا ورستېدل، یوه ورځ مې له یوې راډیو څخه د دې ناروغی په اړه د یوې دوا اعلان واورېد، بیا مې هغه دوا رانیول، پر انګورو مې وشیندل چې تر هغه وروسته مو انګور نه دي وراسته شوي)).
د ډنډ ولسوالی د ماشور د کلي یو بزګر رفیع الله بیا وایي: ((زموږ په کلي کې پخوا غنمو د ( سرخي) په نوم مرض کاوه او فصل به یې لږ پیسې جوړولې، بیا راډیوګانو د دې ناروغی په اړه له زراعتي کارپوهانو سره مرکې وکړې، هغوی موږ ته مسلکي مشورې راکړې، موږ هغه عملي کړې او هغه ناروغي ورکه شوه)).
ورزشکاران هم له رسنیو څخه راضي ښکاري. د کندهار د تیکواندو د فیدراسیون رئیس محبوب نوري وایي: (( پخوا په کندهار کې تیکواندو چا نه پېژندله، خو اوس یې د رسنیو له برکته ډېر خلک پېژني)). صنعتکاران هم له رسنیو څخه خوښي څرګندوي. د ( کندهاری خزانه) په نوم د لاسي صنایعو د یوه شرکت مرستیاله فریبا درانی وایي: (( پخوا به خلکو کندهاری یا خامکي غاړې په بازار کې رانیولې، خو اوس دا غاړې یو مشخص ادرس لري، اوس موږ ته خلک راځي، د خپلې خوښې د رنګ او ډیزاین فرمایش راکوي، په دې ډول زموږ مشتریان ډېر شوي او د کندهار د ښځو لاسي صنایعو ښه بازار موندلی چې دا ټول د رسنیو برکت دی)).
د کندهار قومي مشران بیا په جرګو او مرکو کې د رسنیو رول ډېر مهم ګڼي. د حاجي رفیع الله روان په نوم یو قومي مشر وایي: ((د ډنډ ولسوالی د (سوپ) په کلي کې د (۶۵) کالو راهیسې د دوو قبیلو تر منځ دښمني روانه وه، د دې ستونزې د حل لپاره د کندهار د بېلابېلو قبیلو مشرانو د پرله پسې هڅو په نتیجه کې دا دښمني پای ته ورسېده، د دې روغې جوړې راپور د کندهار په رسنیو کې خپور شو او د ولس له خوا یې خورا تود هرکلی وشو، د جګړو په وطن کې دا یو ښه زېری و)).

## ۲: د کندهار د سیمه ییزو رسنیو کیفیت:

### الف: ټیلویزیونونه:

په کندهار کې دوه ټلویزیونونه خپروني لري چې یو (ملي) او بل (هیواد) نومېږي. هېواد ټلویزیون اوس د لومړي خصوصي تیلویزیون او نسبتاً مسلکي خبریالانو درلودلو، ترجمه شویو فیلمونو، جالبه اعلاناتو او علمي او ضروري موضوعاتو مطرح کولو له امله ډېر لیدونکي لري. تر (هېواد) وروسته (ملي) تیلویزیون د کندهار په کچه دوهم مقام لري. که د دولت پلویتوب، د راپورونو او خبرونو زوړ طرز، دولت ته تبلیغ کول او یا تر ډېره حده دولتي موضوعاتو ته ترجیح ورکول یې نیمګړتیاوې وبولو، نو دا د مرکزي پالیسی محصول دی.

### ب: راډیوګانې:

په کندهارکې دا مهال (۱۴) راډیوګانې خپروني لري چې یوه یې (ملي) او پاته یې خصوصي یا شخصي راډیوګانې دي. په پوښتل شویو خلکو کې تقریباً ټولو یې شکایت کړی چې د راډیوګانو خپروني د کندهار په ټولو ولسوالیو کې نه اورېدل کېږي، د ځینو راډیوګانو خپروني که اورېدل کېږي هم، نو تخنیکي کیفیت یې سم نه دی. د تخنیکي ستونزو په اړه د کندهار د ملي راډیوټیلویزیون مشر نورالله نوري وایي: ((زموږ ټول تخنیکي وسایل په کندهار کې نه ترمیم کېږي، موږ مجبور یو چې د ترمیم لپاره یې کابل ته یوسو او بل دا چې نوي تخنیکي وسایل نه لرو)).
په پوښتل شویو خلکو کې په سلو کې (۹۹) یې ویلي چې په ژوندۍ بڼه خپروني یې نه خوښېږي. د دوی شکایت دا دی چې یو خو د دې ډول خپرونو لپاره ضروري، جالب او د خلکو له سویې او فرهنګ سره سم موضوعات نه ټاکل کېږي او له بلې خوا د خلکو ټیلیفونونه نه کنټرولېږي. درې میاشتې مخکې یوې راډیو ته یوې نجلۍ په تیلیفون کې ښکنځل وکړل، خو په جواب کې یې د خپروني چلوونکي ځوان هم نجلۍ ته ورته ښکنځل وکړل او دا صوتي کلیپ اجتماعي رسنیو ته راووت. د موضوعاتو او محتوا له پلوه د رسنیو وېش او ډلبندۍ په برخه کې څه ناڅه پرمختګ شوی دی، مثلا د ښځینه مسایلو لپاره د مېرمن په نوم راډیو او د اسلامي تعلیماتو لپاره هم درې راډیوګانې خپروني لري، خو د نورو راډیوګانو محتوا او موضوعات تر ډېره حده سره ورته دي.
موږ چې د کندهار د سیمه ییزو راډیوګانو د امتیاز له خاوندانو او نورو مشرانو سره مرکې کړې او یا مو د دوی په اړه معلومات تر لاسه کړي، نو ډېر لږ یې د ژورنالیزم په برخه کې مسلکي زده کړې لري. موږ د کندهار د عامو خلکو، د کندهار د سیمه ییزو رسنیو له مشرانو، کارپوهانو او خبریالانو سره تر مرکو کولو وروسته دې نتیجې ته رسېدلي یو چې د کندهار سیمه ییزې راډیوګانې تر ډېره حده سیستم محوري نه، بلکې شخص محوري دي.

موږ د کندهار د پنځوسو خبریالانو او راډیوګانو له چلوونکو سره مرکې کړې دي، په دوی کې اکثره یې مسلکي زده کړې نه لري، خو ځینې خبریالان که څه هم مسلکي زده کړې نه لري، لنډمهاله مسلکي کورسونه یې لوستي او د خپلې زیرکتیا او تجربې له امله اوس تر مسلکي خبریالانو کم نه دي. د کندهار د سیمه ییزو راډیوګانو د خبریالانو د ظرفیت لوړولو لپاره هم ډېر کار شوی، ملي او نړیوالو ادارو په بېلابېلو برخو کې مسلکي ورکشاپونه ورته جوړ کړي، خو د مېرمن راډیو مشره مریم درانۍ دا ورکشاپونه چندان موثر نه بولي او وایي: ((زموږ همکارانو په ګڼ شمېر تربیتي ورکشاپونو کې برخه اخیستې، خو نتایجو یې وښودله چې دا ورکشاپونه چندان موثر او ګټور نه ول)). په کندهار کې د (نی) اداري مسئول سمیع غیرتمل هم دا مني چې د خبریالانو لپاره ټول تربیتي ورکشاپونه موثر نه ول، خو دا پړه د راډیوګانو پر مشرانو وراچوي او وایي: (( اکثره راډیوګاني موږ ته د اړونده موضوع په برخه کې خبریالان نه معرفي کوي. بل دلیل یې دا دی چې سیمه ییزې راډیوګاني دا امکانات نه لري چې خپل خبریالان د ډېر وخت لپاره زموږ ورکشاپونو ته راواستوي، مثلاً که موږ شپږمیاشتنی کورس ولرو، نو د سیمه ییزو راډیوګانو خبریالان دا ډول کورسونه تر پایه پورې نه شي تعقیبولای)). بله خبره دا ده چې د کندهار د فعاله سیمه ییزه راډیوګانو مشران یا نشراتو مسئولین وایي چې دوی یو تحقیقاتي راپور هم نه دی جوړ کړی.

د خپرونو د موضوعاتو تنوع هم یو مهم بحث دی. په دې اړه په کندهار کې د رویټرز خبري اژانس خبریال سید سرور اماني وایي: (( د کندهار د ځینو راډیوګانو د خپرونو نومونه، جوړښت او محتوا د دې پر ځای چې د خلکو اړتیاوې، ذوق او سویه په پام کې ونیول شي، د راډیو د مشرانو له خوا په خیالي ډول ډیزاین کېږي)).

د راډیوګانو د پروګرامونو ډېزاین کولو پر مهال د کندهار د ټولو اقشارو اړتیاوې په پام کې نه دي نیول شوي. د ډنډ ولسوالۍ د (یخ کاریز) سیمې یو مزدور حیات الله ګیله کوي او وایي: (( د کندهار د راډیوګانو له لارې د مزدورانو لپاره یو اعلان هم نه دی خپور شوی، موږ ته د راډیوګانو له لارې چا دومره مشوره هم نه ده راکړې چې د ناروغیو د مخنیوي لپاره په توده هوا کې د کار کولو پر مهال کوم ټکي په پام کې ونیسو، په سړه هوا کې څنګه کار وکړو، دغه ډول که درونډ بار پورته کوو باید څنګه یې پورته کړو؟  اکثره مزدوران چې درانه بارونه پورته کوي ملا یې عیبي کېږي او د تل لپاره کار نه شي کولای. راډیو کولای شي چې یو ډاکټر مېلمه کړي او موږ ته په دې اړه مشورې راکړي. د کندهار ټول شاعران او لیکوالان درې سوه نفره هم نه کېږي، خو د دوی لپاره اکثره راډیوګاني په اوونۍ کې نیم یا یو ساعت خپرونه لري، خو که وروستیو بې کاریو ته وګورو، نو د کندهار نیم خلک مزدورکاره او کارګر دي، خو د دوی لپاره هیڅ خپرونه نشته؟)).

په پوښتل شویو خلکو کې مطلق اکثریت خلکو ویلي چې د تفریحي خپرونو په تناسب تعلیمي پروګرامونو ته هیڅ پام نه کېږي. د دامان ولسوالۍ یو بزګر عطامحمد وایي: ((زموږ لویه ستونزه بې سوادي ده. کلیوالې ښځې ټولې او نارینه هم اکثریت نالوستي دي، موږ زده کړو ته ډېره اړتیا لرو، د کندهار په ټولو ناامنه ولسوالیو کې ښوونځي تړل شوي دي، د کلیوالو خلکو د تعلیم لپاره یوازینۍ لاره همدا سیمه ییزې راډیوګاني دي، راډیوګاني باید تعلیمي خپرونو ته ډېره پاملرنه وکړي)).

په پوښتل شویو خلکو کې اکثریت یې ګیله لري چې د کندهار سیمه ییزې رسنۍ د کندهار د ځایي موضوعاتو پر ځای د نورو ولایتونو او یا بهرنیو هېوادونو معلومات خپروي. محمد ابراهیم سپېڅلی چې د کندهار له بېلابېلو سیمه ییزو راډیوګانو سره یې کار کړی د عامو خلکو خبره پر ځای بولي او وایي: (( باید د کندهار سیمه ییزې رسنۍ د کندهار ځایي موضوعاتو ته لومړیتوب ورکړي. مثلاً که په ایران کې زلزله شوې وي، تر څو چې د کندهار سیمه ییزې راډیوګانې په دې اړه معلومات خپروي، نو نړیوالو راډیوګانو لکه (بي بي سي)  او (ازادۍ راډیو) په دې اړه څو راپورونه او مرکې خپرې کړې وي، دغه ډول که په ملي کچه یوه موضوع وي، نو موږ ملي رسنۍ لرو، خو که د کندهار د ارغنداب ولسوالۍ یو بزګر ستونزه ولري، د دې ډول موضوعاتو لپاره ملي او نړیوالي رسنۍ وخت نه لري، دا د سیمه ییزو راډیوګانو کار دی)).

په پوښتل شویو خلکو کې تقریباً ټولو یې ویلي چې د کندهار د سیمه ییزو راډیوګانو ژبه روانه، ساده او دوی ورباندې پوهېږي، آن دا چې ځینو خلکو ویلي چې دوی له راډیوګانو څخه د خبرو کولو طرز زده کړی او اوس په خپلو ولسي بانډارونو کې هم د راډیوګانو په شان په ساده، روانه او فصیحه ژبه خبرې کوي. جان محمد صالح چې د کندهار په څو سیمه ییزو رسنیو کې یې د ایډېټر په توګه کار کړی دی وایي: (( د کندهار رسنۍ کندهارۍ لهجه د ژبني ارزښت په توګه پالي او خلک هم ورباندې پوهېږي)). د کندهار د نادولتي محلي راډیوګانو (۶) مشرانو زموږ سره په مرکو کې ویلي چې لیکلې نشراتي پالیسي نه لري او پاته نورو راډیوګانو هم موږ ته خپله نشراتي پالیسي په لیکلې بڼه نه ده راښودلې.

## ج: چاپي رسنۍ:

په تېرو (۱۵) کالو کې په کندهار کې (۵۹) دولتي او نادولتي چاپي خپرونو فعالیت شروع کړی، خو اوس یوازې (۱۳) چاپي رسنۍ فعاله دي چې (۶) دولتي او (۷) یې نادولتي دي. د نادولتي چاپي خپرونو په لړ کې (د ماشوم غږ) په نوم میاشتنۍ مجله هم خپرېږي چې د ماشومانو د ساتنې یا (Save the children) نړیوالې ادارې پورې اړه لري.
د یادونې وړ ده چې د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له خوا د (طلوع افغان) په نوم درې ورځنۍ جریده او ( کندهار) په نوم دوه میاشتنۍ مجله هم چاپېږي، خو دا رسنۍ په دې څېړنه کې د بحث وړ نه دي، ځکه چې موږ یوازې د کندهار د تېرو پنځلسو کالو د چاپي رسنیو بهیر څېړو او دې رسنیو تر دې بهیر څو لسیزې وړاندې په خپرونو پیل کړی دی. د چاپي رسنیو په برخه کې یوه لاس ته راوړنه دا ده چې ځینې رسنۍ د موضوع او محتوا له مخې ډلبندي شوي دي، مثلا (اکو بکو) او ( ماشوم غږ ) مجلې ماشومانو ته ځانګړي شوي دي. دغه ډول د دیني تعلیماتو لپاره هم د ( اسلامي لاربښوونه) په نوم مهالنۍ جریده چاپېږي.
دا چې د کندهار ځینې چاپي رسنۍ ولې یو په بل پسې بندې شوې او د فعاله رسنیو لوستونکي ولې کم دی بېلابېل عوامل لري. په کندهار کې د (نی) ادارې مسئول سمیع غیرتمل وایي: (( دلته د مطالعې فرهنګ کمزوری دی، د افغانستان په پرتله زموږ په ګاونډي هیواد پاکستان کې د مطالعې فرهنګ ډېر پیاوړی او زموږ پر یوه سرحدي ولسوالۍ (سپین بولدک) یې هم تاثیر کړی دی. په دې ولسوالۍ کې په یوه ورځ کې د کندهار درې سوه ګڼې سیمه ییز اخبار خرڅېږي، خو د کندهار په ټول ښار کې درې سوه ګڼې اخبار نه خرڅېږي، ځینو خلکو ته که یې وړیا هم ورکړې، نو نه یې مطالعه کوي)). د کندهار پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځي سرپرست رئیس شېرخان افغان بیا د مطالعې فرهنګ د نشتوالي تر څنګ بېوزلي او بې سوادي هم یو مهم عامل بولي او وایي: (( اخبار په پیسو دی، خو راډیوګانې خلکو ته هم وړیا معلومات ورکوي او هم سواد ته اړتیا نه لري)).
محمد ابراهیم سپېڅلی بیا د چاپي رسنیو په اړه دوو ټکو ته اشاره کوي او وایي: (( یو دا چې د راډیوګانو په پرتله چاپي رسنۍ چلول یو ډېر ستونزمن کار دی، تکړه خبریالانو، لیکوالانو، ایډېټرانو او ډیزاینرانو ته اړتیا لري، څرنګه چې موږ په کندهار کې د چاپي رسنیو لپاره مسلکي کدرونه لږ لرو، نو لوړ کیفیت لرونکي او معیاري چاپي رسنۍ هم نه لرو. بل دا چې د کندهار سیمه ییزې چاپي رسنۍ د خپل ذهني او عیني وضعیت محصول نه، بلکې اکثره یې پروژه یې بڼه لري، اکثره چاپي رسنۍ یوه پروژه وي، کله چې پروژه ختمه شي، نو رسنۍ هم ورسره وتړل شي)).
احمد لودین بیا د چاپي رسنیو زړو معلوماتو ته اشاره کوي او وایي: (( که ورځپاڼې ولرو او تازه مطالب خپاره کړي اوس به یې هم ډېر خلک ولولي، لکه یو وخت چې په کندهار کې (ګرداب) ورځپاڼه چاپېدله او ډېر لوستونکي یې درلودل. ګرداب ورځپاڼه ځکه خلکو لوستله چې هره ورځ چاپېدله او تازه مطالب یې خپرول، خو اوونیزې چاپي رسنۍ له دې امله خلک نه لولي چې مطالب یې زاړه دي)). سید سرور اماني بیا د تجارتي اعلاناتو لږوالی د چاپي رسنیو د زوال اصلي لامل بولي او وایي: (( چاپي رسنۍ لږ لوستونکي لري، له دې امله تجاران چاپي رسنیو ته اعلانونه نه ورکوي، همدا دلیل دی چې اکثره چاپي رسنۍ د مالي ستونزو له امله بندېږي)).

## د: ویبپاڼې:

په کندهار کې دا مهال (۸) ویبپاڼې خپرونې لري چې یوه د کندهار په ملي راډیو ټلویزیون، بله د کندهار ښاروالۍ او پاتې نورې یې نادولتي ویبپاڼې دي. په نادولتي ویبپاڼو کې یوه یې په چاپي، درې یې په راډیوګانو پورې اړه لري او دوې په خپلواکه بڼه خپرېږي. د کندهار ویب پاڼې د راډیو، ټیلویزیون او اخبار غوندي دی، هغه مطالب چې د راډیوګانو، ټیلویزیون او اخبارونو له لارې خپرېږي په ویبپاڼو کې هم کټ مټ خپرېږي. یوازې دوې ویبپاڼې ( کندهار ورځپاڼه او رښتیا) په خپلواکه بڼه خپرېږي. د دې ویبپاڼو یوه ښېګڼه دا ده چې د کوم اخبار، راډیو او یا ټلویزیونونو د ویبپاڼو په شان تکراري نه، بلکې تازه مواد خپروي. د نورو رسنیو په شان د کندهار د اکثرو ویبپاڼو یوه نیمګړتیا دا ده چې موضوعات یې د راډیوګانو غوندې یو بل ته ورته دي.

## ه: اجتماعي رسنۍ:

د کندهار اکثره سیمه ییزې رسنۍ اجتماعي پاڼې هم لري چې اکثره یې فیسبوک فیسبوک پاڼې دي. د دې تر څنګ اکثره خبریالان خپل شخصي فیسبوک پاڼې هم لري. په رسنیو پورې تړلې فیسبوک پاڼې که څه هم تر یوه حده د ژورنالیزم له اصولو سره سم مواد خپروي، خو د ځینو خبریالانو شخصي پاڼې د ژورنالیزم اصول او اخلاق نه مراعتوي. په دې اړه د پژواک خبري اژانس مشر دانش کروخېل وایي: (( که څه هم د بیان ازادي د هر افغان حق دی، خو څرنګه چې ځینې خبریالان د رسنیو له امله مشهور شوي، نو خلک د دوی پر فیسبوک پاڼو خپاره شوي مطالب جدي ګڼي او له هغو رسنیو سره یې تړي چې دا خبریال کار ورسره کوي، له همدې امله اکثریت ملي او نړیوالو رسنیو په خپلو داخلي مقرراتو کې خپل

کارکوونکي په اجتماعي پاڼو کې له پوستونو او تبصرو څخه منع کړي دي)). په کندهار کې د نیویارک ټایمز خبریال تیمورشاه هم د ښاغلي کړوخېل خبره تائیدوي او وایي: (( موږ ته د خپلې ادارې له خوا اجازه نه راکول کېږي چې د ځان په استازیتوب په اجتماعي رسنیو کې داسې څه ولیکو چې په هغه کې د یو چا پلوي شوې وي)). په کندهار کې د طلوع ټيلویزیون خبریال عبدالله همیم بیا وایي چې د اجتماعي رسنیو په اړه د رسنیو ټول مشران یوه شفافه او مشترکه پالیسي نه لري، دی زیاتوي: ((ځینو خبریالانو ته د خپلو ادارو له خوا نه دي ویل شوي چې دوی په اجتماعي رسنیو کې د شخصي نظر څرګندولو حق نه لري، ځیني خبریالان په اجتماعي رسنیو کې خپل شخصي نظر لیکي، خو خلک دا نظر د هغه رسنۍ ته منسوبوي او داسې فکر کوي چې ګواکې دا خبریال یا رسنۍ یو چا ته تبلیغ کوي او یا د یو چا پر ضد کار کوي)).

## ۳: د کندهار د محلي رسنیو او خبریالانو پر وړاندې ستونزې:

### الف: امنیتي ستونزې

په تېرو (۱۵) کالو کې لسګونه خبریالان توهین شوي، تهدید شوي، زنداني شوي، ژوبل شوي او یو خبریال وژل شوی هم دی. د ( ۲۰۰۹ ) میلادي کال د مارچ پر لسمه نېټه د کاناډا د (CTB) ټیلویزیون افغان خبریال احمد جاوید (جوجو) په سپینه ورځ د کندهار ښار په منځ کې په ډزو سره ووژل شو. د (۲۰۱۷) میلادي کال د اکتوبر پر (۳۰) نېټه د (رښتیا) ویبپاڼې مسئول او شیبه راډیو خبریال بسم الله وطندوست د کندهار امنیي قوماندانۍ ونیو او لس ورځې یې یوازې په دې تور بندي کړی و چې په فیسبوک کې یې د خپلو سترګو لیدلی حال لیکلی و. په دې اړه ښاغلی وطندوست وایي: (( زه د کندهار امنیي قوماندانۍ لس ورځې بندي کړی وم، کله چې یې خوشي کولم، نو ما ورته وویل چې که زه مجرم یم نو ولې مو زما دوسیه څارنوالۍ ته نه واستوله او که بې ګناه یم نو باید اعلان وکړئ چې زه مو بې ګناه بندي کړی وم، خو دوی وویل چې موږ په دې اړه نور څه نه شو ویلای)).

### ب: سانسور او معلوماتو ته نه لاسرسی

ځاني سانسور (Self Censorship) تر ټولو لویه ستونزه ده. هر خبریال ډارېږي چې که د دولتي لوړپوړو چارواکو، زورواکانو او دولت د وسله والو مخالفینو د ظلم او فساد موضوع راپورته کړي، نو له ډول ډول ستونزو سره مخ کېږي او آن دا چې وژل کېږي. سید سرور اماني په دې اړه وایي: (( په (۲۰۰۶) میلادي کال کې د تجارتي مالونو له موټرو څخه د بیا رغونې په نوم پیسې اخیستل کېدې. ما غوښتل چې د افغان ازادي راډیو لپاره پر دې موضوع راپور جوړ کړم او معلومه کړم چې څومره پیسې ټولېږي او له ټولو شویو پیسو څخه څومره یې د بیا رغونو په پروژو باندې لګېږي. د معلوماتو لپاره د ګمرک ریاست او نورو اړونده ادارو ته ورغلم، خو هغوی ارقام را نه کړل، اخیر مې پرېکړه وکړه چې دا بهیر خپله وڅارم، هغه و چې په کندهار کې د سپلو څنګ ته د ګمرک یوې نماینده ګۍ ته ورغلم، پټ یو ځای ورته کېښناستم او د هر موټر پیسې مې څارلې، په دې وخت کې د یوه پولیس راته پام شو، ویل دلته څه کوې؟ ما ویل زه خبریال یم او دا معلومات مې په کار دي. پولیسو سمدلاسه د ګمرک د هغه څانګې مشر ته وویل، هغه و چې زه یې د پولیسو په زور له سیمې څخه وشړلم او راپور نیمګړی پاته شو)).
معلوماتو ته نه لاسرسی د سانسور یوه بله بڼه ده. په دې اړه د کلید راډیو مسئول تاج محمد ساحل وایي: (( د کندهار محلي اداره موږ ته پر وخت معلومات نه راکوي. کله چې دوی لاس ته راوړني ولري، نو موږ ورغواړي، خو که موږ معلومات ځني وغواړو ډول ډول پلمې راته کوي)). په کندهار کې نه یوازې دا چې چارواکي له خبریالانو سره پر وخت معلومات نه شریکوي، بلکې ځینې وخت یې سپکاوی هم کوي. په دې اړه د کندهار ویبپاڼې مشر احمد لودین وایي وایي: (( د ۲۰۱۶ میلادي کال د ډسمبر پر (۱۶) نېټه په کندهار کې د سولې په اړه د عینو مېنې په تالار کې یوه لویه غونډه رابلل شوې وه. په دې غونډه کې د کندهار د ولایتي شورا مشر سید جان خاکرېزوال له کوم ثبوت پرته راته وویل چې ته په فیسبوک کې په ما پسې بدې خبرې لیکې او بیا یې د ټولو خلکو په مخ کې د ناموس ښکنځل راته وکړل)).
د کندهار مطلق اکثریت ریاستونه مسلکي ویاندویان نه لري او د ولایت مقام هم کله کله ویاند نه لري. که په تېرو (۱۵) کالو کې د والي د ویاندویانو د نشتوالي موده وشمېرو، نو دوه نیمو کالو ته رسېږي. په دې اړه د تبسم راډیو مشر صدیق الله افغان وایي: (( کله چې د والي یو ویاند له کاره ګوښه شي، نو بل ویاند خورا په ځنډ وظیفې ته راځي چې په دې خلا کې خبریالان له ګڼ شمېر ستونزو سره مخ وي. کله چې له یوې خوا د کندهار اکثره ریاستونه خبریالان نه لري او له بلې خوا د ولایت مقام پر وخت خبریالانو ته معلومات نه ورکوي، دا د خبریالانو لپاره یوه لویه ستونزه ده)). د (۲۰۱۷) میلادي کال د ډسمبر د میاشتې پر دوهمه نېټه خبریالانو د کندهار ګڼ شمېر خبریالانو د کندهار له والي جنرال زلمي ویسا سره ناسته درلوده. دوی په دې ناسته کې د کندهار له والي څخه وغوښتل چې د (شیبه) راډیو او (رښتیا) ویبپاڼې خبریال بسم الله وطندوست او (کلید) راډیو خبریال احمدالله څرګند راخوشي کړي او یا دې دوی ته معلومات ورکړي چې دا خبریالان یې په څه تور نیولي دي؟ د کندهار والي د دې پر ځای چې په دې اړه یو واضح او منطقي جواب ورکړي، پر خبریالانو تور

ولګاوه او ویې ویل: (( زه یې پېژنم، د دولتي چارواکو په ډول په خبریالانو کې هم مافیایي باندونه پیدا شوي دي، دوی د پیسو په مقابل کې له ځینو دولتي چارواکو څخه پیسې اخلي او د هغوی په ګټه تبلیغات کوي)). د دې خبرې په مقابل کې د (اثر) اوونیزې مسئول چلوونکي زمان رازمل د کندهار د خبریالانو په استازیتوب وویل: ((والي صاحب! تاسې وویل چې دا ډول خبریالان او چارواکي پېژنئ، موږ ستاسې څخه هیله کوو چې دا خبریالان او چارواکي دواړه څارنوالی ته معرفي کړئ، موږ نه یوازې دا چې له دې ډول چلند سره مخالف نه یو، بلکې همکاري درسره کوو))، خو ښاغلي ویسا خبره بلې خوا ته یووړه، ویل زه د کندهار نه، بلکې د پکتیا خبریالان یادوم، په داسې حال کې چې نه دا غونډه د پکتیا د خبریالانو د ستونزو په اړه جوړه شوې او نه هم ښاغلی ویسا دا مهال د پکتیا والي و.

## ج: د مسلکي خبریالانو نشتوالی

د کندهار خبریالان، د رسنیو د ټولنو مشران او کارپوهان د کندهار د خبریالانو له کاري ظرفیت څخه راضي نه دي. دوی وایي چې اکثره امنیتي ستونزې، فرهنګي حساسیتونه او خپرونو د ټیټ کیفیت لامل د خبریالانو ټیټ ظرفیت دی. په دې اړه محمد ابراهیم سپېڅلی وایي: (( په تېرو ( ۱۵ ) کالو کې د کندهار د سیمه ییزو خبریالانو ظرفیت لکه څنګه چې هیله کېده او یا اړتیا یې لیدل کېږي، هغومره نه دی لوړ شوی، د کندهار د سیمه ییزو رسنیو د اکثرو خبریالانو کاري ظرفیت ټیټ او تجربه یې لږ ده، داسې ځوانان هم په رسنیو کې کار کوي چې ښوونځی یې هم نه دی بشپړ کړی، همدا دلیل دی چې د کندهار اکثره رسنی لږ تولیدي خپروني لري او د معلوماتو پر ځای سندرې خپروي)). د کندهار د ژورنالیزم د پوهنځي سرپرست رئیس پوهیالی شیرخان افغان د کندهار د خبریالانو د مسلکي وړتیا په اړه وایي: (( په کندهار کې د ژورنالیزم پوهنځی ناوخته فعال شو او یوازې یوه دوره محصلین یې فارغ کړي چې هغه هم اکثره یې د نورو ولایتونو اوسېدونکي ول او د کندهار د سیمه ییزو رسنیو په درد یې و نه خوړل)).

## د: د چاپي رسنیو لپاره د لیکوالانو او ایډیټرانو کمښت

د ماشومانو لپاره د ( اکوبکو) میاشتنی مجلې مسئول چلوونکی بشیر احمد نادم وایي: (( د مطالبو په راغونډولو کې له ډېرو ستونزو سره مخ یو، یو خو په مجموع کې په افغانستان، په خاص ډول بیا په کندهار کې لږ داسې لیکوالان لرو چې د ماشوم لپاره دي مقالي ولیکلای شي)). په کندهار کې د ملالی نومي خصوصي پوهنتون له خوا چاپېدونکی (ملالی) اخبار مسئول چلوونکی عبدالواسع هڅیال د خبریالانو او ایډیټرانو د کمښت په اړه وایي: ((د وروستیو ناامنیو له امله اکثره لیکوالان او ایډیټران کابل او یا بهرنیو هیوادونو ته ولاړل او د کندهار له چاپي رسنیو سره یې اړیکي پرې شوي دي)).
د پنجوایي مجلې پخوانی مدیر خلیل احمد څارن بیا د وېبپاڼو او اجتماعي رسنیو رامنځ ته کېدل د لیکوالانو د نه همکارۍ لامل ګڼي او وایي: (( د کندهار یو شمېر لیکوالان که څه هم کابل او یا بهرنیو هیوادونو ته تللي، خو له هغه ځایه هم د ایمیل له لارې چاپي رسنیو ته لیکنې استولای شي، خو دا کار ځکه نه کوي چې چاپي رسنی د دوی لیکنې ناوخته خپروي او بیرته یې دوی ته چاپي بڼه نه استول کېږي)).

## ه: د کندهار د محلي ادارې له خوا د رسنیو تر منځ تبعیضي چلند:

د هیواد راډیو ټیلویزیون خبریال جاوید احمد سمسور وایي: (( د کندهار محلي اداره د معلوماتو ورکولو په برخه کې د رسنیو تر منځ تبعیضي چلند کوي، سیمه ییزو رسنیو ته معلومات نه ورکوي، خو ملي رسنیو ته یې ورکوي، تر ملي رسنیو بیا نړیوالو رسنیو ته په اسانه معلومات ورکوي، که سیمه ییزې رسنۍ ته وخت ورکوي، بیا هم د ملي او نړیوالو رسنیو په پرتله لږ وخت ورکوي)). په کندهار کې د رویټرز خبري اژانس خبریال محمد اسمعیل صمیم بیا د رسنیو تر څنګ د دولتي چارواکو له خوا د خبریالانو تر منځ تبعیضي چلند ته هم اشاره کوي او وایي: (( ما په کندهار کې شپاړس کاله کار کړی دی، خو زه لومړی لاس معلومات په اسانۍ سره نه شم تر لاسه کولای، خو داسې خبریالان شته چې یوازې دوه یا درې کلنه تجربه لري، خو دوی تر ما مخکې معلومات تر لاسه کوي، د دوی ټیلیفونونو ته ژر جواب ورکول کېږي او آن دا چې خپله چارواکي زنګونه ورته وهي او معلومات ورسره شریکوي)). په کندهار کې د ازادی راډیو خبریال صادق ریښتینی بیا د تبعیض د نورو ډولونو تر څنګ د افغان او بهرنیو خبریالانو تر منځ تبعیض هم یادوي او وایي: ((په تېرو لسو کالو کې لږ پېښه شوې چې یو بهرنی خبریال دي کندهار ته راغلی وي، خو بیرته دي تش لاس ستون شوی او معلومات دي یې نه وي ترلاسه کړي، خو موږ ته هماغه معلومات خورا په تکلیف لاس ته راځي، بهرني خبریالان نه یوازې دا چې ښه چلند ورسره کېږي، په اسانه معلومات ورکول کېږي، بلکې تحفې هم ورکول کېږي)).

### و: د ښځینه خبریالانو کمښت:

د هېواد راډیوټلویزیون مشر صدیق الله خلیق په دې اړه وایي: (( د ښځو په اړه حقوقي ستونزې، عدالت غوښتنه، کورنۍ شخړې او د ښځو اړوند نور مسائل د نارینه خبریالانو پر لاس نه څېړل کېږي. د ښځینه خبریالانو کمښت بله دا ستونزه دا ده چې لیدونکي او اورېدونکي مو کم شوي دي. کله چې ښځې په رسنیو کې ښځینه اواز نه اوري او یا د دوی د اړتیا او ذوق وړ موضوعات نه څېړل کېږي، دوی یې نه تعقیبوي، هغو خپرونو ته هم زنګونه نه وهي او خپلې ستونزې نه ورسره شریکوي چې په ژوندۍ بڼه د نارینه وو له خوا چلول کېږي.)).

## ۴: د رسنیو مالي سرچینې:

په تېرو پنځلسو کالو کې (۴۶) چاپي رسنۍ د مالي ستونزو له امله بندې شوي او د فعاله چاپي رسنیو د مشرانو له خبرو داسې ښکاري چې نورې چاپي رسنۍ به هم له ورته برخلیک سره مخ شي. د ( اثر) اوونیز اخبار مسئول رازمل زمان په دې اړه وایي: (( زموږ د اخبار چاپ کله کله د مالي ستونزو له امله ځنډېږي او یو ځل خو آن دا چې شپږ میاشتې هم وځنډېد)). خو له دې سره سره هیڅ یوې رسنۍ خپله مالي سرچینه نه ده ښودلې. جان محمد صالح چې د کندهار له سیمه ییزو رسنیو سره یې ډېر وخت کار کړی، وایي: (( د کندهار اکثره سیمه ییزې رسنۍ مالي خپلواکي نه لري، دوی له لومړي سره د نورو په مالي مرستو تاسیس شوي دي، که له ځینو رسنیو سره اوس څوک مرسته نه کوي، پخوا یې ورسره کوله. په کندهار کې هیڅ یو داسې سوداګر نشته چې د نورو هېوادونو په ډول دې رسنۍ داسې جوړه کړي چې هم خپل لګښتونه پوره کړي او هم دې ګټه وکړي. زما په فکر د رسنیو مشران له دې امله هم د مالي سرچینو نوم نه یادوي چې غواړي ځان خپلواک وښیي او د عامو خلکو ملاتړ خپل کړي)). د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس فضل باري بریالی په دې اړه وایي: (( زه باور نه لرم چې د کندهار ټولې رسنۍ دې د سوداګرو د مرستو او اعلاناتو له لارې خپلې اړتیاوې پوره کړای شي، ما له ځینو رسنیو سره دا خبره شریکه کړې ده، خو تر اوسه نه یم توانېدلی چې د دوی مالي سرچینې پیدا کړم)).

## ۵: د کندهار په رسنیو کې د ښځو حضور:

په کندهار کې دا مهال (۳۵) سیمه ییزې رسنۍ فعالیت لري او (۱۵۲) خبریالان کار ورسره کوي چې (۳۱) یې ښځینه خبریالانې دي. د (۳۳) سیمه ییزو رسنیو له جملې څخه یوازې لس رسنۍ ښځینه خبریالانې لري او پاته رسنۍ یوه ښځینه خبریاله هم نه لري. د یادونې وړ ده چې په دولتي رسنیو کې یوازې دوې ښځینه خبریالانې په رسمي ډول په نشراتي برخه کې کار کوي. د کندهار په سیمه ییزو رسنیو کې د ښځو لږوالی دا عوامل لري:

الف: فرهنګي محدودیتونه

په دې اړه محمد ابراهیم سپېڅلی وایي: (( زه خپله له تېرو (۱۵) کالو راهیسې په رسنیو کې کار کوم، لور مې اکثره وخت راته وایي چې زه غواړم په رسنیو کې کار وکړم، خو زه د خلکو د بدو خبرو له امله هغې ته اجازه نه ورکوم چې په رسنیو کې کار وکړي، زه غواړم چې لور مې په رسنیو کې کار وکړي، خو د خلکو د تورونو او پېغورونو مخه نه شم نیولای)). یوه نجلۍ چې په کندهار کې له یوې سیمه ییزې راډیو سره کار کوي او خپل نوم نه یادوي وایي: (( په رسنیو کې د کار له امله مې خپلوانو اړیکې راسره پرې کړې، ان دا چې اکاګان مې هم پلار ته له دې امله پېغور ورکوي چې لور دې په راډیو کې کار کوي، خو زه بیا هم د مجبوریت له مخې په راډیو کې کار کوم)). د ښځو له کار سره نه یوازې دا چې نالوستي خلک حساسیت ښیي، بلکې یو شمېر لوستي او آن دا چې د ښوونځیو او پوهنتونونو استادان هم په رسنیو کې د ښځو له کار سره مخالفت ښیي. په دې اړه د هېواد ټلویزیون یوه خبریاله او پوهنتون محصله رنګینه انوري وایي:
((ما مخکې په راډیو کې کار کاوه او ښوونځي ته هم تلم. د ښوونځي ځینو استادانو به په راډیو کې د کار کولو له امله کرکه راڅخه کوله، ویل تا د کندهاریو ښځو غیرت تر پښو لاندې کړی دی، کله چې پوهنتون ته راغلم، نو دلته هم د استادانو له خوا  هغسې خبرې اورم)).

ب: جنسي ځورونه:

یوه خبریاله مېرمن چې خپل نوم نه یادوي وایي: (( پلار مې مړ شو او په کور کې مې د ډوډۍ پیدا کولو بل څوک نه درلود، ځکه مې په راډیو کې کار شروع کړ. که څه هم مور او ورونو ته به مې خلکو پېغورونه ورکول چې ځوانه نجلۍ مو په راډیو کې کار کوي، خو هغوی هم مجبور ول چې د بېوزلۍ له وجې د خلکو پېغورونه وزغمي. یوازې په ټولنه کې د خلکو پېغورونه نه ول، په راډیو کې هم د نارینه وو له ډول ډول سپکو خبرو او آن دا چې جنسي ځورونو سره مخ وم)). د کندهار یوه بله خبریاله چې نوم نه یادوي د ښځینه خبریالانو پر وړاندې د فرهنګي حساسیت او جنسي ځورونې پېره پر

ځینو ښځینه خبریالانو ور اچوي او وايي: (( زه تر اوسه پورې له هیڅ ډول ستونزې سره نه یم مخ شوې، ځیني ښځینه خبریالانې د کندهار واقعیتونه او نارینه وو جنسي محرومیت نه درک کوي، ځته او غلیظ سینګار کوي، ډېر فیشني کالي اغوندي، له نارینه همکارانو سره خنداوي او ټوکې کوي، د دفتر په موټر کې د کور کیسې کوي، نو په داسې حالت کې طبیعي خبره ده چې د نارینه وو پام ځان ته را اړوي او ځیني نارینه به د دوی په اړه په خپل ذهن کې منفي تصور لري)).

## ج: لږ مادي امتیازات او نامعلومه راتلونکی

په دې اړه د کندهار د سیمه ییزو رسنیو یوه پخوانۍ خبریاله نګینه انوري وايي: (( زه په رسنیو کې له کار سره مینه لرم، له همدې امله مې پخوا له هېواد ټیلویزیون سره کار کاوه، خو کله چې پوه شوم بل ځای تر دې ځای ډېر معاش راکوي او د پرمختګ زمینه هم راته برابره ده، نو له هېواد ټیلویزیون سره مې کار پرېښود، اوس په کندهار کې له یوې نړیوالې ( این، جي، او) سره کار کوم او لوړ معاش اخلم)).

## د: جنسیتي تبعیض او پر رسنیو باندې د نارینه وو واکمني:

د کندهار له (۳۳) سیمه ییزو رسنیو څخه یوازې د مېرمن راډیو مشره ښځه ده چې مریم درانۍ نومېږي. د مېرمن راډیو په نشراتي برخه کې (۱۳) تنه کار کوي چې (۱۱) یې ښځینه او دوه یې نارینه دي. په کندهار کې د کلید راډیو یوه خبریاله فوزیه اخلاص په رسنیو کې د ښځینه مشرتابه په اړه وايي: (( په هغو رسنیو کې چې ښځې یې مشرتوب پر غاړه لري، ښځینه کارکوونکي هلته ځان راحت احساسوي او په ډېر زړه ورتوب کار کوي)). دا خبره په کندهار کې د ( بي بي سي) راډیو خبریال مامون درانۍ هم تائیدوي او وايي: (( ما په (۲۰۱۰) میلادي کال کې له هېواد راډیو ټلویزیون سره کار کاوه، هغه وخت د هېواد ټیلویزیون مشره یوه نجلۍ وه، هغه وخت کې په هېواد راډیو او ټلویزیون کې (۸) نجونو کار کاوه، خو اوس هلته یوازې دوې نجونې کار کوي)). د کندهار یوه شاعره او خبریاله مینه انتظار هم له جنسیتي تبعیض څخه شکایت کوي او وايي: (( ما د کندهار اوونیزې اخبار چاپول شروع کړل، څو ګڼې چې مې چاپ کړې، نو د کندهار د محلي ادارې له خوا ډول ډول خنډونه راته جوړ شول. د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د جواز اخیستلو په اړه لازمه لارښوونه نه راته کوله او په یوه او بله پلمه یې زما د کار مخه نیوله)).

# په تېرو (۱۵) کالو کي د کندهار د ځايي رسنيو لنډه ارزونه

| ګڼه | د رسنۍ نوم | د رسنۍ ډول | د امتياز ډول: الف: دولتي ب:خصوصي ج: شخصي | مسئول چلوونکی | د خپرونو ډول | د خپرونو د پيل نېټه | د رسنۍ د بنديدو نېټه | د رسنۍ د بنديدو علت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | طلوع افغان | درې ورځنۍ اخبار | د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ رياست | عبدالقادر تکين | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۰۰ه ش چنګاښ ۱۵ | اوس هم چاپيږي | |
| ۲ | سورغر | اوونيزه | د اراکوزيا اعلاناتو شرکت | جان محمد صالح | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۴ه ش چنګاښ ۲۹ | ۱۳۹۵ وری | مالي ستونزي |
| ۳ | عينو | اوونيزه | احمدالله فيضي | عبدالواسع هڅيال | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۶ ه ش تله ۴ | ۱۳۸۹ ه ش تله | مالي ستونزي |
| ۴ | ودان | دوه ورځنۍ اخبار | احمدالله فيضي | عبدالواسع هڅيال | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۸ ه ش وری ۲۱ | ۱۳۸۹ ه ش کب | مالي ستونزي |
| ۵ | بڅرکی | اوونيزه | بريښنا فکري انجمن | احمد فرزان | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۷ه ش لړم | ۱۳۹۰ ه ش مرغومی | مالي ستونزي |
| ۶ | کندهار | دوه مياشتنۍ مجله | اطلاعات او فرهنګ رياست | محمدنبي سلطاني | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۳۹ ل وری لومړۍ ورځ | اوس هم چاپيږي | |
| ۷ | ميوند | درې مياشتنۍ مجله | ميوند کلتوري ټولنه | عبدالنافع همت | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۱ ه ش کال وری | ۱۳۸۴ ه ش غويی | مالي ستونزي او په نورو فرهنګي چارو کي د داوطلبانه همکاراڼ و مصروفيت |
| ۸ | ښکلا | ۲مياشتنۍ مجله | بېنوا فرهنګي ټولنه | محمدياريار | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۱ ه ش کال وری مياشت | ۱۳۸۸ ه ش کال کب | مالي ستونزي او له کندهار څخه کابل او بهرنيو هېوادونو ته د |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | فرهنګي همکاران و تګ. |
| ۹ | کندهار پوهنتون | ۳ میاشتنی مجله | کندهار پوهنتون ریاست | علاوالدین مستمند | علمي خپرونه | ۱۳۸۱ ه ش کال تله | ۱۳۸۳ ه ش کال غبرګولی | مالي ستونزي |
| ۱۰ | اسلامي ډیوه | میاشتنی مجله | د کندهار د علماو شورا | عبدالجلیل کمینه | دیني، علمي، حقوقي، اجتماعي | ۱۳۸۱ ه ش کال لیندی ۵ | ۱۳۸۹ | مالي ستونزي |
| ۱۱ | هوډ | دوه میاشتنی مجله | د احمدشاه بابا علمي او کلتوري مرکز | روښان ولسمل | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۲ ه ش کال غویی | ۱۳۸۹ وری | مالي ستونزي |
| ۱۲ | مېروند | څلور میاشتنی مجله | بسم الله خان | بسم الله خان | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۲ ه ش کال/ وری | ۱۳۸۳ ه ش کال | مالي ستونزي |
| ۱۳ | تنده | دوه میاشتنی مجله | هیواد کلتوري ټولنه | تاج محمد تابع | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۲ ه ش کال/ تله | ۱۳۸۳ ه ش کال وروسته نه ده چاپ سوې | مالي ستونزي |
| ۱۴ | نورالاسلام | مهالنۍ مجله | د علماوو شورا | محمدیار سعیدي | دیني، علمي او اجتماعي | ۱۳۸۳ ه ش کال/ وری | ۱۳۸۶ ه ش کال/ تله | مالي ستونزي |
| ۱۵ | رڼا | دوه میاشتنی مجله | د پوهني ریاست | احمد لودین | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۴ ه ش کال/ وری | ۱۳۸۷ ه ش کال/ غبرګولی | مالي ستونزي |
| ۱۶ | ماشوم غږ | میاشتنی مجله | د کوچنیانو ساتني مؤسسه Save the children | نظرمحمد صمیمي | حقوقي، تعلمي، تفریح، رسامي خپرونه | ۱۳۸۶ ه ش کال/ غبرګولی | اوس هم چاپېږي | |
| ۱۷ | پانګه | میاشتنی مجله | افغان نوښت مشورتي دفتر | میرویس نظري | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۶ ه ش کال/ تله | ۱۳۸۷ ه ش غبرګولی | مالي ستونزي |
| ۱۸ | پنجوایي | مهالنۍ مجله | پنجوایي ادبي ټولنه | قدرت الله لېوال | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۶ ه ش کال/ تله | ۱۳۸۷ه ش | مالي ستونزي |
| ۱۹ | سپوږمۍ | یوه میاشتنی مجله | مرسل احمدزی | مرسل احمدزی | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۶ ه ش کال/ لړم | ۱۳۸۷ ه ش | له کندهار څخه د مرسل احمدزی تلل. |
| ۲۰ | ښوونځی | دوه میاشتنی | د لوی کندهار د زده | محمد صادق ریښتنی | فرهنګي، اجتماعي او | ۱۳۸۶ ه ش کال/ | ۱۳۸۹ ه ش کال/ غویی | د زده کوونکو |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | مجله | کوونکو ټولنه | | عملي | مرغومی | | د ټولني بندېل |
| ۲۱ | انار | دوه میاشتنۍ مجله | زراعت پوهنځي/ کندهار پوهنتون | انجینرشاه محمود بری | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۷ه ش کال/ چنګاښ | ۱۳۸۷ه ش کال/ ثور | مالي ستونزي |
| ۲۲ | شنه پاڼه | مهالنۍ مجله | زراعت پوهنځي/ کندهار پوهنتون | پوهنیار فیض الرحمن ابراهیمي | زراعتي خپرونه | ۱۳۸۷ه ش کال/ غویی | ۱۳۸۸ه ش کال | مالي ستونزي |
| ۲۳ | اسلامي لارښوونه | مهالنۍ مجله | مولوي محمدعمر خطابي | مولوي محمدعمر خطابي | دیني، علمي او اجتماعي | ۱۳۸۹ ه ش کال/ وری | اوس هم چاپېږي | |
| ۲۴ | بری | پنځلس ورځنۍ جریده | عبدالاحد ترابي | عبدالحمید ترابي | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۲ ه ش کال/ تله | ۱۳۸۹ ه ش کال/ کب | مالي ستونزي |
| ۲۵ | کارېز | دوې میاشتنۍ جریده | کارېزمرستند ویه ټولنه | حامد متواضع | روغتیایي او ټولنیزه خپرونه | ۱۳۸۴ ه ش کال/ تله | ۱۳۸۶ ه ش کال/ غبرګولی | مالي ستونزي |
| ۲۶ | هڅه | پنځلس ورځنۍ جریده | فیضي ښوونیز مرکز | محمدابراهیم سپېڅلی | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۴ ه ش کال/ زمری ۱۰ | ۱۳۸۷ ه ش کال/ غویی | مالي ستونزي |
| ۲۷ | روهي بهیر | مهالنۍ جریده | روهي ادبي بهیر | محمد عمر واحدیار | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۴ ه ش کال/ تله ۲۵ | ۱۳۸۴ ه ش کال/ تله ۲۵ یوازي یوه ګڼه یې چاپ شوه. | مالي ستونزي |
| ۲۸ | پښتنه | مهالنۍ جریده | هیواد کلتوري ټولنه | نظرمحمد رازمل | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۴ ه ش | ۱۳۸۵ ه | د هیواد کلتوري ټولني منحل کېدل |
| ۲۹ | افغان | پنځلس ورځنۍ جریده | افغان علمي او کلتوري مرکز | رحمت الله قریشي | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۵ه ش کال/ لړم | ۱۳۸۶ه ش کال/ غویی | مالي ستونزي |
| ۳۰ | رښتیا | مهالنۍ جریده | بسم الله افغانمل | پښتون حقیار | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۶ه ش کال/ میاشتي یادونه نه ده سوې | ۱۳۸۸ه ش | مالي ستونزي |
| ۳۱ | بریا | میاشتنۍ جریده | ویښ ملګرو فرهنګي ټولنه | عبدالقدیم پټیال | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۶ه ش کال/ وری | ۱۳۸۷ه ش | مالي ستونزي |
| ۳۲ | غاټول | مهالنۍ جریده | کندهار ادبي انجمن | قاري مطیع الله | فرهنګي، اجتماعي او | ۱۳۸۷ه ش | اوس هم چاپېږي | |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | ذهين | عملي | | | |
| ۳۳ | تلاښ | میاشتنۍ جریده | د ځوانانو اړیکو او معلوماتو مرکز | جانان مومن | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۷ه ش | ۱۳۸۷ه ش | مالي ستونزي |
| ۳۴ | کندهار ښار | میاشتنۍ جریده | کندهار ښاروالي | میرویس نظري | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۸ه ش | اوس هم چاپیږي | |
| ۳۵ | هیله | مهالنۍ جریده | د ځوانانو ټولنه | نظرمحمد صمیمي | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۹ه ش کال/ لړم | ۱۳۹۰ه ش کال/ غوایی | مالي ستونزي |
| ۳۶ | میوند جریده | مهالنۍ جریده | ډاکټرعزیزالله میوندي | عزیز میوندي | روغتیایي او ښوونیزه | ۱۳۸۶ه ش | ۱۳۸۶ه ش | مالي ستونزي |
| ۳۷ | خوځښت | درې میاشتنۍ جریده | علامه حبیبي ښوونیز مرکز | عطاءالله مراد | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۵ه ش کال/ غبرګولی | ۱۳۸۵ه ش | مالي ستونزي |
| ۳۸ | روغ رمټ | دوه میاشتنۍ جریده | ډاکټر پاینده محمد ارغنداوی | ډاکټر پاینده محمد ارغندابي | روغتیایي خپرونه | ۱۳۸۵ه ش کال/ غویی | ۱۳۸۵ه ش | مالي ستونزي |
| ۳۹ | رغښت | درې میاشتنۍ مجله | د کندهار د معلولینو ټولنه | فرید احمد جوړ | تعلیمي او تربیتي | ۱۳۸۷ه ش کال/ غویی | ۱۳۸۷ه ش | مالي ستونزي |
| ۴۰ | روحاني | دوې میاشتني جریده | عبدالباري روحاني | عبدالباري روحاني | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۶ه ش ګڼه | ۱۳۸۷ه ش | مالي ستونزي |
| ۴۱ | درملنه | مهالنۍ جریده | ډاکټرنورالبار ي | ډاکټرنورا لباري | روغتیایي او معلوماتي | ۱۳۸۵ه ش | ۱۳۸۵ه ش | مالي ستونزي |
| ۴۲ | نورالهدا | مهالنۍ جریده | کندهار پوهنتون/شر یعاتو پوهنځي | قاري برکت الله حلیم | دیني او اجتماعي | ۱۳۸۷/ کال | ۱۳۸۷/ کال | مالي ستونزي |
| ۴۳ | سمون | اوونیزه | سمون مدني ټولنه | غلام محمد معصومي | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۹۲ ه ش کال/ مرغومی | ۱۳۹۳ه ش | مالي ستونزي |
| ۴۴ | کندهار اوونیزه | اوونیزه | مینه انتظار | مینه انتظار | فرهنګي، اجتماعي او عملي | ۱۳۸۴ سلواغه | ۱۳۸۴ کب ۳ګڼې چاپ سوې دي | مالي ستونزي |
| ۴۵ | کندهار ټایمز | اوونیزه | حاجي نجیب احمدي | جاوید تنویر | خبري او سیاسي | ۱۳۹۲ه ش | ۱۳۹۲ه ش | مالي ستونزي |
| ۴۶ | ټاټوبی | اوونیزه | مرکزي دفتر او اعلانات | متین خان | فرهنګي، اجتماعي، عملي او تفریحي | ۱۳۸۲ ه ش زمری | اوس هم چاپیږي | |
| ۴۷ | آثر | اوونیزه | عبدالسمیع غیرتمل | رازمل زمان | اجتماعي، فرهنګي، علمي او خبري | ۱۳۹۳ ه ش | اوس هم چاپیږي | . |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴۸ | سهار | درې میاشتنۍ مجله | د مولانا جلال الدین محمد بلخي عالي خصوصي لیسه | حبیب الله قلم مل | علمي، اجتماعي او فرهنګي | ۱۳۹۴ ه ش | اوس هم چاپېږي | |
| ۴۹ | نداءالقرآن | مهالنۍ جریده | حمادیه مدرسه | محمد نبي سلطاني | دیني، علمي او اجتماعي | ۱۳۹۴ ه ش | ۱۳۹۶ ه ش | مالي ستونزي |
| ۵۰ | کاروباري اړیکي | اوونیزه | د اراکوزیا اعلاناتو شرکت | هلال احمد سعید | اعلانات | ۱۳۸۴ | ۱۳۸۵ | مالي ستونزي |
| ۵۱ | ملالۍ | میاشتنۍ اخبار | ملالي خصوصي پوهنتون | عبدالواسع هڅیال | اجتماعي، فرهنګي او علمي | ۱۳۹۴ | اوس هم چاپېږي | |
| ۵۲ | سحر | مهالنۍ جریده | میرویس نیکه لیسه | احمد | عمومي معلومات | ۱۳۸۴ ه ش | ۱۳۸۵ ه ش | مالي ستونزي |
| ۵۳ | زروړانګه | دوه میاشتنۍ مجله | د کندهار د پوهني ریاست | نوراحمد قرانمل | علمي او اجتماعي | ۱۳۸۵ ه ش | ۱۳۸۶ ه ش | مالي ستونزي |
| ۵۴ | چوپړ | درې میاشتنۍ مجله | د کندهار ولایتي شورا | محب الله مشال | د ولایتي شورا فعالیتونه او عمومي معلومات | ۱۳۸۷ | ۱۳۹۲ | مالي ستونزي |
| ۵۵ | میوند منار | مهالنۍ جریده | میوند ملالۍ ادبي ټولنه | محمد شریف زهیر | اجتماعي، فرهنګي او علمي | ۱۳۹۱ ه ش | ۱۳۹۲ه ش | مالي ستونزي |
| ۵۶ | د کندهار پوهنتون خبري بولیټن | میاشتنۍ | کندهار پوهنتون | د کندهار پوهنتون د نشراتو کمېټه | د کندهار پوهنتون راپورونه خپرول | ۱۳۹۶ ه ش | اوس هم چاپېږي | |
| ۵۷ | منديګک | درې میاشتنۍ مجله | کندهار پوهنتون | ډاکټر نسیم ضفر | عملي | ۱۳۹۶ه ش | اوس هم چاپېږي | |
| ۵۸ | منديګک | اوونیز اخبار | شخصي | جان محمد صالح | اجتماعي، فرهنګي او علمي | ۱۳۹۴ | ۱۳۹۵ | مالي ستونزي |
| ۵۹ | نارنج | درې میاشتنۍ مجله | کندهار پوهنتون | نقیب الله سردار | علمي | ۱۳۸۷ه | اوس هم چاپېږي | |
| ۶۰ | www.mudigak.com دا ویب | ویب سایټ | د منديګک اوونیز اداره | احمد شُبیر | اجتماعي، فرهنګي او علمي | ۱۳۹۴ | ۱۳۹۵ | مالي ستونزي |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | سایټ اوس بند دی. | | | | | | | |
| ۶۱ | http://www.taleemulislam-radio.com/index.php | ویب سایټ | د کندهار تجاران | د راډیو کاري ټیم | مذهبي او دیني | ۱۳۸۹ ه ش کال ورى ۱۴ | اوس هم خپروني لري | |
| ۶۲ | وړانګه راډیو ویب سایټ دا ویب سایټ اوس بند دی. | ویب سایټ | پاچاخان | د راډیو خبري ځانګه/خبر یالان | اجتماعي، فرهنګي او علمي | ۱۳۹۳ه ش | ۱۳۹۶ه ش | مالي ستونزي |
| ۶۳ | http://www.kandahardaily.com | ویب سایټ | احمد لودین | احمد لودین | اجتماعي، فرهنګي، علمي او خبري | ۱۳۹۵ه ش کال/ کب لومړۍ | اوس هم خپروني لري | |
| ۶۴ | زما راډیو ویب سایټ www.zmaradio.com | ویب سایټ | تجار حاجي عتیق الله احمدي | نقیب احمد قریشي | اجتماعي، فرهنګي، علمي او خبري | ۱۳۹۵ه ش ۵ | اوس هم خپروني لري | |
| ۶۵ | http://tatobaynews.com/ | ویب سایټ | د ټاټوبي اوونیزي اداره | متین خان او رازمل زمان | اجتماعي، فرهنګي، علمي او خبري | ۱۳۸۷ ه ش | اوس هم خپروني لري | |
| ۶۶ | http://www.kandahartv-gov.com/ | ویب سایټ | حکومت | د ټلویزیون خبري ځانګه | اجتماعي، فرهنګي، علمي او خبري | ۱۳۸۵ ه ش | اوس هم خپروني لري | |
| ۶۷ | هیواد تلویزیون ویب سایټ http://www.hewad.tv/ | ویب سایټ | قیوم کرزی | د ټلویزیون خبري ځانګه | اجتماعي، فرهنګي، علمي او خبري | ۱۳۹۰ ه ش | اوس هم خپروني لري | |
| ۶۸ | رښتیا | ویب سایټ | بسم الله وطندوست | بسم الله وطندوست | اجتماعي، فرهنګي، علمي او خبري | ۱۳۹۲ه ش کال/ غبرګولی | اوس هم خپروني لري | |
| ۶۹ | www.kandahar- | ویب سایټ | کندهار ښاروالي | جان محمد صالح | د ښاروالی فعالیتونه او | ۱۹۹۲ | اوس هم خپروني | |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | m.gov.af | | | | عمومي معلومات | | لري | |
| ۷۰ | www.tolokan.com | ویب سایت | شخصي | اسدالله زړه سواند | اجتماعي، فرهنګي، علمي او خبري | ۱۳۹۲ | ۱۳۹۳ | مالي ستونزې |
| ۷۱ | کندهار تلویزیون | تلویزیون | حکومت | نورالله نوري | اجتماعي، فرهنګي، علمي، خبري او تفریحي | ۱۳۶۳ه ش | اوس هم خپروني لري | |
| ۷۲ | هیواد تلویزیون | تلویزیون | قیوم کرزی | صدیق الله خلیق | اجتماعي، فرهنګي، علمي، خبري او تفریحي | ۱۳۸۴ | اوس هم خپروني لري | ............ |
| ۷۳ | اسلام غږ راډیو | راډیو | د علماوو شورا | مولوي فیضاني | دیني، علمي او اجتماعي | ۱۸۸۳ | اوس یي هم خپروني لري | |
| ۷۴ | هیواد راډیو | راډیو | قیوم کرزی | صدیق الله خلیق | اجتماعي، فرهنګي، علمي، تفریحي او خبري | ۱۳۸۲ | اوس یي هم خپروني لري | |
| ۷۵ | کلید راډیو | راډیو | مرکزي دفتر کابل/کلید ګروپ | تاج محمد ساحل | اجتماعي، فرهنګي، علمي، تفریحي او خبري | ۱۳۸۵ | اوس یي هم خپروني لري | |
| ۷۶ | څانګه راډیو | راډیو | آغا شېر منار | عبدالقوي هاروني | اجتماعي، فرهنګي، علمي، تفریحي او خبري | ۱۳۸۹ | اوس یي هم خپروني لري | |
| ۷۷ | زما راډیو | راډیو | حاجي عتیق الله احمدي/تجار | میراجان همدم | اجتماعي، فرهنګي، علمي، تفریحي او خبري | ۱۳۹۴ | اوس یي هم خپروني لري | |
| ۷۸ | وړانګه راډیو | راډیو | حاجي پاچا سوداګر | عبدالله پوپل | اجتماعي، فرهنګي، علمي، تفریحي او خبري | ۱۳۸۶ | اوس یي هم خپروني لري | |
| ۷۹ | قرآن ږغ | راډیو | حاجي پاچا/ سوداګر | مولوي نجیب الله | دیني، علمي او اجتماعي | ۱۳۹۴ه ش کال/ غویی | اوس یي هم خپروني | |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | اکرمي | | ۲۳ | لري | |
| ۸۰ | تبسم راډيو | راډيو | صديق الله افغان | صديق الله افغان | اجتماعي، فرهنګي، علمي، تفريحي او خبري | ۱۳۹۴ | اوس يې هم خپروني لري | |
| ۸۱ | روبنا راډيو | راډيو | حميدالله ذکي | حميدالله ذکي | اجتماعي، فرهنګي، علمي، تفريحي او خبري | ۱۳۹۵ ه | اوس يې هم خپروني لري | |
| ۸۲ | کندهارملي راډيو | راډيو | حکومت | اسدالله زړه سواند | اجتماعي، فرهنګي، علمي، تفريحي او خبري | ۱۳۵۵ه ش | اوس يې هم خپروني لري | |
| ۸۳ | سماء ميوند راډيو | راډيو | سيداحمد سالار | سيداحمد سالار | اجتماعي، فرهنګي، علمي، تفريحي او خبري | ۱۳۹۳ | اوس يې هم خپروني لري | |
| ۸۴ | تعليم السلام راډيو | راډيو | مولوي محمد عمر خطابي او د کندهار تجاران | مولوي محمد عمر خطابي | ديني، علمي او اجتماعي | ۱۳۸۷ه ش | اوس يې هم خپروني لري | |
| ۸۵ | مېرمن راډيو | راډيو | مريم درانی | بصيراحمد بشارت | د ښځو اړوند موضوعات، اجتماعي، علمي، خبري، تفريح | ۱۳۸۹ | اوس يې هم خپروني لري | |
| ۸۶ | زېور راډيو | راډيو | رحمت الله وصال | د امتياز خاوند: رحمت الله وصال | اجتماعي، فرهنګي، علمي، تفريحي او خبري | ۱۳۹۶ چنګاښ ۳۰ | اوس يې هم خپروني لري | |
| ۸۷ | يووالي راډيو | راډيو | ايساف ځواکونه | مېراجان همدم او اسلمي | خبري، سياسي تفريحي او تبليغاتي | ۱۳۸۹ | ۱۳۹۲ | له کندهار څخه د ايساف ځواکونو وتل |